# د معراج په سفر کښې

# دزدکړې خبرې

07-February-24



(27 رجب، 1445ھ) د معراج د شپې بیان

(for Islamic Brothers)

په 7 فرورۍ کال 2024ء (27 رجب، 1445ھ) د معراج شريف د اجتماع بيان

(د چارشنبې او زيارت مينځينۍ شپه)

# د معراج مصطفٰی نه د زدکړې خبرې

په دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- ... هر انسان په فطرت (اسلام) باندې پيدا کيږي
- ...د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عبديت شان
- ... د بندګۍ يو څو آداب
- ... د ګناهونو نه په ډک ژوند کښې يې سپرلے راغے

پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُالْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبه: بيانات دعوتِ اِسلامي)

***For Feedback***:+92 315 2692786

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الۡمُرۡسَلِيۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيۡطٰنِ الرَّجِيۡمِ ط بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيۡكَ يَا رَسُوۡلَ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ يَا حَبِيۡبَ اللّٰه
اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيۡكَ يَا نَبِيَّ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ يَا نُوۡرَ اللّٰه

نَوَيۡتُ سُنَّتَ الۡاِعۡتِكَافِ (**ترجمه:** ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

ابو عبد الوهاب شَعراني رحمۃ اللہ علیه د لسمې صدۍ هجرۍ ډېر لوئي عالِم، ډېر لوئي ولئِ کامِل دے. **هغوئي ليکي:** د معراج په شپه چې کله صاحب معراج نبي، رسولِ هاشمي صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم د **الله** پاک په بارګاه کښې حاضر شو نو هغوئي يو آواز واوريدو کوم چې د حضرت ابو بکر صِدِّيق رضی اللہ عنه د آواز مبارک په شان وو، اووئيلے شول: قِفۡ يَا مُحَمَّد! اِنَّ رَبَّكَ يُصَلِّيۡ يعني اے محبوبه صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم ! انتظار اوکړئ! ستاسو رَبّ **صلوٰة** فرمائي. خوږ نبي صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم په زړۀ کښې سوچ اوکړو: اَرَبِّيۡ يُصَلِّيۡ؟ آيا زما رَبّ نمونځ کوي...؟ اوفرمائيلے شول: اے محبوبه صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم! هغه **الله** پاک دے څوک چې پخپله هم او د هغه فرښتې هم په تاسو باندې دُرُود ليږي. (1)

فرشتے جاتے ہیں لے کر درود حضرت کو | اُدھر پہنچتا ہے جو تم اِدھر درود پڑھو
رسولِ پاک کے حق میں تو یہ بھی تھوڑا ہے | جو اُن کے نام پہ آٹھوں پہر درود پڑھو (2)

سُبۡحٰنَ الله! څومره ښکلے شان دے زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے

---

1...اَلْيَوَاقِيْتُ وَالْجَوَاهِر، جزء:2، المبحث الرابع والثلاثون فی بيان صحة...الخ، صفحه:276 بتغير قليل۔

2...نورِ ايمان، صفحه:56، 57 ملتقطاً۔

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ...!! هغوئي هٰغه ذيشان [اوچت شان والا] دے چې د هغوئي رَبِّ کريم، د ټولو جهانونو خالِق او مالِک په هغوئي باندې دُرُود ليږي.

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! مونږ له هم د دُرُودِ پاک کثرت کول پکار دي، نن د معراج شپه ده او يو قول دا هم دے چې د دُرُود آيت يعني

| | |
|---|---|
| اِنَّ اللّٰهَ وَ مَلٰٓىٕكَتَهٗ یُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِیِّ ؕ یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَیْهِ وَ سَلِّمُوْا تَسْلِیْمًا (۵۶) (پارہ:22، الاحزاب:56) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ الْعِرفان: بيشکه الله او د هغه فرښتې په نبي باندې درود ليږي. اے ايمان والؤ! په هغوئي باندی درود او ډير ډير سلام اوليږئ (۵۶) |

په دې شپه باندې نازل شو. [1] يعنې د دې قول مطابق دا خوږ خوږ آيت د معراج د شپې تحفه ده. لهٰذا په ننۍ شپه خاص طور او د دې نه علاوه ټول عمر ❀په ناسته ❀ولاړه❀ ګرځيدو راګرځيدو کښې ❀ په کثرت سره د دُرُودِ پاک لوستلو عادت جوړ کړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم! د دې به ډير برکتونه درنصيب شي. الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

| | |
|---|---|
| ہر درد کی دوا ہے صلِّ عَلٰی مُحَمَّد | تعویذِ ہر بلا ہے صلِّ عَلٰی مُحَمَّد |
| محبوبِ کبریا ہے صلِّ عَلٰی مُحَمَّد | کیا نقشِ خوشنما ہے، صلِّ عَلٰی مُحَمَّد |
| قربِ خُدا ہو حاصِل، جنّت میں ہو وہ داخِل | جس نے لکھا پڑھا ہے صلِّ عَلٰی مُحَمَّد |
| جنّت مقام ہو گا، دوزخ حرام ہو گا | گر دِل پہ لکھ لیا ہے صلِّ عَلٰی مُحَمَّد |
| اس کی نجات ہو گی، رحمت بھی ساتھ ہو گی | جو پڑھ کے مر گیا ہے صلِّ عَلٰی مُحَمَّد |
| جانے بھی دے اِرَم کو، رضواں نہ روک ہم کو | سینے پہ لکھ لیا ہے صلِّ عَلٰی مُحَمَّد |

---

1...القول البدیع، الباب الاوّل فی الامر بالصلاۃ...الخ، صفحہ:43۔

جو دردِ لادوا ہو، یہ گھول کر پِلا دو | کیا نسخۂ شفا ہے صلِّ عَلٰی مُحَمَّد

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د بیان اوریدلو نیتونه

په حدیثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیَّات د اعمالو دار و مدار په نیتونو دے. [(1)]

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! ښه نیت ښنده جنت ته رسوي، د بیان اوریدو نه مخکښې څه ښه ښه نِیَّتونه اوکړئ: مَثَلاً ❀ د اللّٰه پاک د رضا د پاره به ټول بیان اورم ❀ عِلمِ دِین به زده کووم ❀ په اَدب به کښینم ❀ نصیحت به حاصلووم ❀ د اَحمَدِ مجتبیٰ، مُحَمَّد مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په پاک نوم اوریدو به درودِ پاک لولم.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! نن اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د رجب شریف اوویشتمه [27] شپه ده. ❀ نن د شانِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اظهار شپه ده ❀ نن د رفعتِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اظهار شپه ده ❀ نن د امامتِ انبیا شپه ده ❀ نن د معراجِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم شپه ده ❀ بلکې داسې اووایئ چې نن هغه شپه ده چې په کومه شپه بُراق ته د خدمتِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم معراج اوشو ❀ نن هغه شپه ده چې مسجدِ اَقصیٰ ته د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د زیارت معراج نصیب شو ❀ نن هغه شپه ده چې انبیائے کرامو عَلَیْہِمُ السَّلَام د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دیدار شوق لرلو نن د هغوئي د پاره د زیارتِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم شپه ده ❀ نن د اووه وارو آسمانونو ❀ د هغه ځائے د فرښتو د پاره ❀ د جنّت او د جنّت د ټولو نعمتونو د پاره ❀ د هغه ځائے د حُورو د پاره ❀

1 ...بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحہ:65، حدیث:1۔

بلکې حق خو دا دے چې د عرشِ اعظم د پاره هم د معراج شپه ده. آؤ جي! دا عرشِ اعظم دے، کوم چې د خوږ مصطفٰے جانِ رحمت صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم د قدم ښکلولو ارمان لرلو په ننۍ شپه محبوبِ خُدا، اِمامُ الانبیا، د دواړو جهانونو سلطان صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم عرش ته تشریف یوړلو او د عرشِ اعظم دا ارمان یــې پوره کړو.

| | |
|---|---|
| پردہ رُخِ انْور سے جو اُٹھا شبِ معراج | جنّت کا ہوا رنگ دوبالا شبِ معراج |
| حُوروں نے بھی گایا یہ ترانہ شبِ معراج | خالق نے محمد کو بلایا شبِ معراج |
| اے رحمتِ عالَم تیری رحمت کے تَصَدُّق | ہر ایک نے پایا ترا صدقہ شبِ معراج |
| جس وقت چلی شاہِ مدینہ کی سواری | سجدے میں جھکا عرشِ مُعَلّیٰ شبِ معراج |
| مہمان بُلانے کے لئے اپنے نبی کو | اللہ نے جبریل کو بھیجا شبِ معراج |
| یہ شانِ جلالت کہ نہایت ہی ادب سے | جبریل نے آقا کو جگایا شبِ معراج |
| جبریل تھکے، ہو گئے سرکار روانہ | منہ تکتا ہوا رہ گیا سدرہ شبِ معراج |
| ہمراہ سُواری کے تھیں افواجِ ملائک | بن کرچلے اس شان سے دولہا شبِ معراج |
| مدّت سے جو ارمان تھا، وہ آج نکالا | حوروں نے کِیا خُوب نظّارہ شبِ معراج |
| تھی راستہ بھر اُن پہ درودوں کی نچھاور | باندھا گیا تسلیم کا سہرا شبِ معراج |
| دولہا تھے محمد تو براتی تھے فرشتے | اس شان سے پہنچے مرے مولیٰ شبِ معراج |
| روشن ہوئے سب ارض و سما نور سے اس کے | جب ماہِ عرب عرش پہ چمکا شبِ معراج |
| ممکن ہی نہیں عقلِ دو عالَم کی رسائی | ایسا دیا اللہ نے رُتبہ شبِ معراج |
| تفصیل سے کی سیر مگر اس پہ یہ طُرّہ | اک پل میں یہ طے ہو گیا رستہ شبِ معراج |

| | |
|---|---|
| زنجیر درِ پاک کی ہلتی ہوئی پائی | اور گرم تھا وہ بسترِ اعلیٰ شبِ معراج |
| اس میں سے جمیلِؔ رضوی کو بھی عطا ہو | رحمت کا بٹا خاص جو حصّہ شبِ معراج(1) |

*-*-*-*-*

| | | | |
|---|---|---|---|
| مرحبا! مرحبا! | صاحبِ معراج | رحمتِ کبریا! | صاحبِ معراج |
| لطفِ حق ہو گیا! | صاحبِ معراج | شاہِ ہر دو سرا! | صاحبِ معراج |
| تم کو معراج کا! | صاحبِ معراج | حق سے مژدہ ملا! | صاحبِ معراج |
| رہبر و رہنما! | صاحبِ معراج | نیک دیجئے بنا! | صاحبِ معراج |
| ہو مبارک شہا! | صاحبِ معراج | یا شفیعَ الوریٰ! | صاحبِ معراج |

## د معراج د واقعې خلاصه

په پینځلسمه [15] سیپاره، سورۂ بَنِي اِسرَائِیل، آیت: 1 کښې **الله** پاک ارشاد فرمائي:

سُبۡحٰنَ الَّذِیۡۤ اَسۡرٰی بِعَبۡدِہٖ لَیۡلًا مِّنَ الۡمَسۡجِدِ الۡحَرَامِ اِلَی الۡمَسۡجِدِ الۡاَقۡصَا

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ الْعِرفان: پاک دے هغه ذات چا چې په خپل خاص بنده د شپې په څه حِصَّه کښې د مسجدِ حرام نه مسجدِ اقصیٰ پورې سیل اوکړو

اے د خوږ نبي صلَّی اللہ علیہِ والہٖ وسلَّم عاشقانو! مِعراج زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلَّی اللہ علیہِ والہٖ وسلَّم عظیمه او ځانګړې معجزه ده، زمونږه خوږ نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صلَّی اللہ علیہِ والہٖ وسلَّم په مَکَّه مُکَرَّمَه کښې د حضرت اُمِّ هاني رضی اللہ عنہا په کور کښې آرام فرمائیلو، ناڅاپه چت برسیره شو، د فرښتو سردار حضرت جبریلِ امین علیہِ السَّلام حاضر شو، د

1...قبالۂ بخشش، صفحہ: 122 تا 126 ملتقطاً۔

اللّٰه پاک پیغام یې واورولو، د مِعراج زیرے یې ورکړو، سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په بُراق باندې سور شو، مسجدِ اَقصیٰ ته یې تشریف یوړلو، هلته یې د انبیائے کرامو عَلَیۡھِمُ السَّلَام اِمامت اوفرمائیلو، بیا د آسمان په لور روان شولو، په اووه واړو آسمانونو تیر شو او سدرۃُ المنتهیٰ ته یې تشریف یوړلو، بیا د سدرۃُ المنتهیٰ نه لامکان ته اورسیدو، عین په بیداریٔ کښې یې د سر په سترګو د اللّٰه پاک دیدار اوکړو، دومره زرګونه لکونه کلومیټره سفر یې چې اوکړو او واپس یې تشریف راوړلو خو د شپې لږه شان حصه تیره شوې وه، علماء فرمائي: چې کله رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم واپس تشریف راوړلو نو بستره مبارکه یې لا ګرمه وه او د دروازې زنځیر هم خوزیدو. (1)

ہیں عرشِ بَریں پر جَلوہ فگن محبوبِ خُدا سُبۡحٰنَ اللہ
اِک بار ہُوا دِیدار جسے سَو بار کہا سُبۡحٰنَ اللہ!
حیران ہوئے بَرق اور نظر اِک آن ہے اور برسوں کا سفر
راکِب نے کہا اَللہُ غَنی مَرکَب نے کہا سُبۡحٰنَ اللہ!
طالِب کا پتہ مَطلُوب کو ہے مَطلُوب ہے طالب سے واقف
پَردے میں بُلا کر مِل بھی لئے پَردہ بھی رَہا سُبۡحٰنَ اللہ!
ہے عَبد کہاں معبود کہاں مِعرَاج کی شب ہے راز نِہاں
دو نُور حِجابِ نُور میں تھے خود ربّ نے کہا سُبۡحٰنَ اللہ!
سمجھے حامِدؔ اِنسان ہی کیا یہ راز ہیں حُسن و اُلفت کے

---

1...انوارِ جمالِ مصطفٰے، صفحہ:277بتغیر قلیل۔

خالق کا حَبِیبی کہنا تھا خَلقت نے کہا سُبْحٰنَ الله!(1)

*_*_*_*_*

| | | | |
|---|---|---|---|
| اللہ کی عنایت! | مرحبا! | معراج کی عظمت! | مرحبا! |
| براق کی قسمت! | مرحبا! | براق کی سُرعَت! | مرحبا! |
| اقصیٰ کی شوکت! | مرحبا! | نبیوں کی امامت! | مرحبا! |
| آقا کی رِفعت! | مرحبا! | آسماں کی سیاحت! | مرحبا! |

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د معراج د سفر نه د زدکړې خبرې

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د معراج سفر د ډېرو واقعاتو مجموعه ده، دا صرف يوه معجزه نه ده بلکې په دې کښې ډېرې معجزې دي او دا خبره هم ياده ساتئ! چې دا صرف يو سفر نه وو، د معراج سفر د ژوند يو پوره نصاب هم دے. که مونږ د زدکړې په نيت د معراج شريف واقعات اولولو نو په دې کښې زمونږ د پاره د زدکړې ډېرې خبرې دي او د عِلم او حکمت نه ډک داسې بے مثاله او باکماله سبق ترينه حاصليږي چې که مونږ دغه سبقونه واخلو، دا په ذهن کښې کښېنوو او په دې عمل شروع کړو نو زمونږه دنيا او آخرت دواړه ښه کيدے شي. راځئ! د معراج د سفر په سبقونو کښې د يو څو د اوريدو سعادت حاصلوو:

### (1): په فِطرت باندې قائم اوسئ!

د معراج شريف په روايتونو کښې دي: زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے

1...بياضِ پاک، صفحه:33-

صَلَّى الله عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مکے مکرمې نه روان شولو او مسجدِ اَقصیٰ ته اورسیدلو. دغلته د هغوئي د اوچت شان د اظهار د پاره ټول انبیائے کرام عَلَيْهِمُ السَّلَام راجمع کړے شوي وو. مسجدِ اَقصیٰ ته په رسیدو حضرت جبریلِ امین عَلَيْهِ السَّلَام اذان اوکړو، انبیائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام صفونه جوړ کړل، بیا انتظار کیدو چې ځمع به څوک ورکوي، نن هغه څوک ذیشان دے، څوک چې به انبیائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام له ځمع ورکوي. وَاَخَذَ بِيَدِهٖ فَقَدَّمَهٗ یعنې په دې کښې حضرت جبریلِ امین عَلَيْهِ السَّلَام خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د لاس نه اونیولو او د مصلې په لور یے ورمخکښې کړو. (1)

عظیم عاشقِ رسول، د بارګاهِ رسالت مقبول شاعِر حضرت امام بوصیري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه لیکي:

سارے نبیوں کے عہدے بڑے ہیں، لیکن آقا کا منصب جُدا ہے
وہ امامِ صفِ انبیا ہیں ان کا رتبہ بڑوں سے بڑا ہے
کوئی لفظوں سے کیسے بتا دے ان کے رُتبے کی حد ہے تو کیا ہے
ہم نے اپنے بڑوں سے سُنا ہے، صِرف الله اُن سے بڑا ہے

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** په مسجدِ اَقصیٰ کښې د نـمونځ ادا کولو نه پس آقائے نامدار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تنده محسوس کړه، د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې دوه جامونه پیش کړے شول **(1):** په هغو کښې په یو کښې پئ او **(2):** په دویم کښې پاک شراب وو، رحمت والا نبي، مکي مَدَني صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پئیو جام قبول کړو. په دې باندې حضرت جبریلِ امین عَلَيْهِ السَّلَام عرض اوکړو: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِىْ هَدَاكَ الْفِطْرَةَ ټول تعریفونه **الله** پاک لره دي چا چې ستاسو د فطرت په لور راهنمائي اوفرمائیله لَوْ أَخَذْتَ الْخَمْرَ غَوَتْ

---

1... سبل الہدی، جماع ابواب معراجہ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم، الباب الثامن... الخ، جلد:3، صفحہ:84۔

اُمَّتُكَ که تاسو د شرابو جام قبول کړے وے نو ستاسو اُمَّت به ګمراه شوے وے. [1]

سُبْحٰنَ الله! د معراج په شپه لکه چې د اُمَّت د قسمت فیصله کیدله، که حُضُور جانِ کائنات صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاکو شرابو جام قبول کړے وے نو اُمَّت به ګمراه شوے وے خو اَلْحَمْدُ لِلّٰه! الله پاک مونږه ګنهګاران د رحمتونو والا نبي، د نبیانو د نبي، مکي مَدَني صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُمّتیان جوړ کړو، زمونږه کریم آقا، زمونږه رحیم آقا، احمدِ مجتبیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په اُمَّت باندې کرم اوفرمائیلو او د پئیو جام یې قبول کړو او د ګمراهئ نه یې بچ کړو.

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! دا زمونږ د پاره د زدکړې سبق دے. دا اُمَّت په فطرت باندې قائم پاتې کیدونکے اُمَّت دے. لهٰذا په مونږ ټولو باندې لازم دي چې مونږه په فِطرت باندې قائم اوسو. اوس دا فطرت څه څیز دے؟ په فِطرت باندې څنګه قائِم پاتې کیدل دي؟ په فِطرت باندې د قائِم پاتې کیدو اهمیت څه دے؟ راځئ! د اوریدو سعادت حاصلوو:

## فطرت څه ته وئیلے شي؟

الله پاک په قرآن کریم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| فِطْرَتَ اللّٰهِ الَّتِیْ فَطَرَ النَّاسَ عَلَیْهَا ؕ لَا تَبْدِیْلَ لِخَلْقِ اللّٰهِ ؕ ذٰلِكَ الدِّیْنُ الْقَیِّمُ ۙ وَ لٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا یَعْلَمُوْنَ ۟ۙ (۳۰)<br>(پاره:21، اَلرُّوم:30) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ الْعِرفان: (دا) د الله پیدا کړے فطرت (دے) په کوم ئې چې خلق پیدا کړل د الله جوړ کړے څیز نه بدلول، هُم دا نیغ دین دے، خو ډیر خلق نه پوهیږي (۳۰) |

1...بخاری، کتاب الاشربة، باب قول الله تعالی انما الخمر...الخ، صفحه:1419، حدیث:5576۔

په دې آیت کښې د فطرت نه مُراد دینِ اِسلام دے. [1] یعني فرمائیلے کیږي چې اے خلقو! د فطرت (یعنې د دینِ اسلام) پیروي کوئ! بے شکه ټول انسانان هم په دې فطرت باندې پیدا کړے شوي دي، بیا د دې نه پس چې څوک د فطرت نه مخ اړوي او بَل طرف ته روانیږي نو هغه د شیطان په پنجه کښې راګیر دے. [2]

## هر انسان په فطرت باندې پیدا کیږي

**په حدیثِ پاک کښې دي:** مَا مِنْ مَوْلُودٍ إِلَّا يُولَدُ عَلَى الْفِطْرَةِ، فَأَبَوَاهُ يُهَوِّدَانِهِ، أَوْ يُنَصِّرَانِهِ یعني هر ماشوم هُم په فِطرت باندې پیدا کیږي، دا د هغه مور پلار دي څوک چې هغه یهودي یا عیسائي جوړوي. [3]

د قرآنِ کریم مشهور مفسر، حکیم الأُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رحمۃ اللہ علیه لیکي: **د فطرت نه مُراد دے: اصلي او پیدائشي حالت.** یعني هر انسان په ایمان (او دینِ اِسلام) باندې پیدا کیږي، بیا د شعور پیدا کیدو نه پس چې څنګه خپل مور پلار او ملګرو ته ګوري، هم هغسې جوړیږي. [4]

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د دې قرآني آیت او د حدیثِ نبوي نه معلومه شوه چې مونږه مخلوق یو او زمونږه خالق، زمونږه جوړوونکي رَبِّ کریم مونږه جوړ کړي هم په دې انداز یُو چې دِین، ایمان، تَوحِید، دا هر څه زمونږه په فطرت کښې کیښودے شوي دي.

---

[1]...صراط الجنان، پارہ:21، اَلرُّوم، زیرِ آیت:30، جلد:7، صفحہ:443۔
[2]...تفسیرِ نسفی، پارہ:21، اَلرُّوم، زیرِ آیت:30، جلد:2، صفحہ:699 خلاصۃً۔
[3]...بخاری، کتاب الجنائز، باب اذا اسلم الصبی...الخ، صفحہ:380، حدیث:1358۔
[4]...مرآۃ المناجیح، جلد:1، صفحہ:100 بتصرف قلیل۔

## په سمندر کښې دې اُمید د چا نه لرلو...!!

د اهلِ بیتِ پاک د مشهور او معروف شخصیت حضرت اِمام جعفر صادِق رحمۃُ اللہِ علیہ خوا له یو ځل یو دَهرِیه (یعنې د الله پاک د وجود نه انکار کوونکے) راغے، امام جعفر صادِق رحمۃُ اللہِ علیہ د هغه نه پوښتنه اوکړه: آیا تا چرته په سمندر کښې سفر کړے دے؟ اوئې وئیل: آؤ جي! کړے مې دے. اوئې فرمائیل: آیا چرته په سمندر کښې څه خطرناکې پیښې سره مخامخ شوے یې. اوئې وئیل: آؤ جي! اوئې فرمائیل: د هغې تفصیل بیان کړه! بیا هغه دَهرِیه اووئیل: یوه ورځ د سمندر د سفر په وخت خطرناکه طوفاني سیلئ راغله، چې د هغې د وجهې کشتئ هم ماته شوه او ماڼکے [یعنې کشتئ چلوونکے] هم ډوب شو او مړ شو، ما د ماتې شوې کشتئ یوه تخته اونیوله او د سمندر په طوفاني چپو مې سفر شروع کړو، آخر د سمندر د چپو په وجه هغه تخته هم زما د لاس نه اوښوئیدله، بیا ما بغیر د څه سهارې نه په دومره لوئې سمندر کښې لامبو وهله، آخر د سمندر چپو زه غاړې ته راویشتم (او زما ژوند بچ شو). دا یې چې واوریدل نو امام جعفر صادِق رحمۃُ اللہِ علیہ اوفرمائیل: کله چې تۀ سمندر ته کوز شوې نو ستا په کشتئ او په ماڼکي اعتماد وو چې د دې کشتئ په وجه به د سمندر نه پورې وځم، بیا چې کله کشئ ماته شوه نو بیا تا د کشئ په یوه تخته باندې باور اوکړو چې د دې په مدد به زه غاړې ته اورسم، بیا چې کله هغه تخته دې هم د لاس نه لاړه او تۀ بالکل بغیر د سهارې نه پاتې شوې، آیا هغه وخت هم ستا د بچ کیدو طمع وه؟ اوئې وئیل: آؤ جي! زما طمع وه. امام جعفر رحمۃُ اللہِ علیہ اوفرمائیل: هغه وخت خو څه سهارا موجوده نه وه، هغه وخت دې په چا اعتماد وو؟ په کوم باور تا د بچ کیدو طمع لرله؟ نو هغه کَس خاموشه شو. امام جعفر صادِق رحمۃُ اللہِ علیہ اوفرمائیل: په هغه خطرناک حالت کښې هم ستا د نه غوښتو باوجود هم **چې یوه طمع وه، په کومه هستئ چې دې باور وو،** هُم هغه ته خدائے وئیلے شي،

هُم هغه تهٔ د ډوبيدو نه بچ كړې. د هغوئي د حكمت نه ډكه دا خبره چې يې واوريدله نو هغه ګَس هم په هغه وخت كلمه اووئيله او مسلمان شو. (1)

غرض دا چې ايمان، دِين، توحيد، دا ټولې خبرې زمونږه د فطرت حصه ده، اوس كه څوك ❀ د دين نه مخ اړوي ❀ د دين په ځائے په خپل ناقص عقل پسې ځي ❀ د انساني دماغو ايجاد كړے شوو نظرياتو خبره كوي ❀ د فطرت د قانون نه د آزادئ چغې وهي ❀آزاد خياله جوړيږي نو هغه ګَس خپل فطرت هيروي، داسې اوګڼئ! چې يو وي: بدن يعنې شكل ورانيدل، او يو دے: رُوحاني مسخ يعنې رُوح ورانيدل. كوم بنده چې خپل فطرت هير كړي او د ايمان او دِين خلاف لاره اختيار كړي، هغه په اَصل كښې خپل رُوح ورانوي. ځكه مونږ له پكار دي چې هميشه په فطرت باندې قائِم اوسو.

## د فطرت خبرې

د مسلمانانو د خوږې مور جاني حضرت عائشه صِدِّيقه رضی اللہ عنہا نه روايت دے، رسولِ ذيشان، مكي مَدَني سلطان صلی اللہ علیہ والہٖ وسلم فرمائيلي دي: لس څيزونه د فطرت نه دي: **(1):** بريت واړه كول **(2):** ګيره پريښودل **(3):** مسواک كول **(4):** پوزه كښې اوبه اَچوَل (لكه څنګه چې په اودس كښې اچولے شي) **(5):** نوكان كټ كول **(6):** د ګوتو سرونه وينځل **(7):** د ترخونو او **(8):** د نامه نه لاندې ويښته ويستل **(9):** او په اوبو باندې استنجا كول. راوِي وائي: **لسم څيز څه وو، هغه زما نه هير شو.** (2)

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! **دا لَس څيزونه سُنّتِ انبياء او زمونږه د فِطرت حصه ده.** اوس دلته غور اوكړئ! د معراج په شپه باندې زمونږه خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني

---

1... تفسير كبير، پاره:1، البقره، زير آيت:22، جلد:1، صفحه:333۔

2... مسلم، كتاب الطهارة، باب خصال الفطرة، صفحه:116، حديث:261۔

مصطفٰے صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په مونږ باندې ګرم اوکړو، هغوئي ته د پئيو او پاکو شرابو جامونه پيش کړے شول نو هغوئي د پئيو جام اِختيار کړو او په دې کښې حکمت څه وو؟ د پاره د دې چې د هغوئي اُمَّت په فطرت باندې قائم اوسي. اوس چې مونږ غور اوکړو چې آيا مونږ د هغه کرم خيال ساتو، دا لس څيزونه خو د فطرت حصه ده، آيا مونږ دا لس څيزونه اختياروو. مثلاً بريت واړه کول او ګيره پريښودل د فطرت حصه ده. نن چې مونږه اوګورو: څومره خلق دي کوم چې ګيرې پريږدي...!! آه! **افسوس!** يوه لويه شميره د هغه خلقو ده کوم چې د ګيرې مبارکې په شان ښکلې سُنّت خريوي او نالو ته يې غورځوي. اَلْاَمَان وَالْحَفِيظ...!! **ياد ساتئ! ګيره خريل يا د يو موټې نه وړه کول ګناه او حرام او دوزخ ته بوتلونکے کار دے.** (1)

## د ګيرو خريونکو نه د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نفرت

**په روايت کښې دي:** يو ځل دوه ايراني افسران په بارګاهِ رسالت کښې حاضر شول، دا دواړه غير مسلمه وو، ځکه يې ګيرې خريلې وې او بريت يې دومره لوئي وو چې شونډې يې پټې کړې وې. د هغوئي داسې مخونه چې يې اوليدل نو سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نفرت له وجهې مخ واړولو او اوئې فرمائيل: په تاسو باندې دې هلاکت وي د داسې مخ جوړولو تاسو ته چا وئيلي دي؟ هغوئي اووئيل: زمونږه رَبّ پرويز خسرو. (اَسْتَغْفِرُ الله! اَسْتَغْفِرُ الله!). په دې باندې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: **خو زما رَبّ اللّٰهُ رَبُّ العالـمين حکم کړے دے چې ګيره پريږدم او بريت اوترواشم.** (2)

---

1...بہارِ شریعت، جلد:3، صفحہ:585، حصہ:16بتغیر قلیل۔

2...مدارج النبوۃ، جلد:2، صفحہ:225بتصرف۔

نیکیاں کر جلد تُو بدیوں سے بھاگ
قبر میں ورنہ بھڑک اُٹھے گی آگ
چھوڑ دے داڑھی منڈانا ہے حرام
ایک مٹھی سے گھٹانا ہے حرام(1)

بهر حال! خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د خوږ آقا صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم د معراج د سفر نه مونږ ته دا سبق حاصل شو چې مونږ له همیشه په فطرت باندې قائِم اوسیدل پکار دي، فطرت څه دے؟ دینِ اِسلام. یعنې مونږ ته په اسلام باندې، په اِسلامي اخلاقو او آدابو باندې، په اِسلامي انداز او طور طریقو باندې همیشه قائِم اوسیدل دي. **اللّٰه** پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق رانصیب کړي. اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم.

سُنّتوں سے بھائی رشتہ جوڑ تُو | نِت نئے فیشن سے منہ کو موڑ تُو
چھوڑ دے سارے غَلَط رَسم و رَواج | سنتوں پہ چلنے کا کر عہد آج

وسائلِ بخشش، صفحه:715 ملتقطاً.

## صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## (2): د معراج سفر د عِلمِ دِین سفر

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د معراج شریف په حکمتونو کښې یو حکمت علمائے کرامو دا هم بیان فرمائیلے دے چې د معراج سفر په اَصل کښې د خوږ مصطفٰے صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم د دعا قبلیدو نتیجه ده. زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم ته حکم اوشو:

---

1...وسائل بخشش، صفحہ:715 ملتقطاً۔

وَقُلْ رَّبِّ زِدْنِیْ عِلْمًا ﴿۱۱۴﴾ (پارہ:16، طٰه:114)

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ الْعِرفان: او عرض اوکړه: اے زما رَبــه! زما په عِلم کښې اضافه اُوفرمائے (114)

خوږ نبي صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به دا دُعا کوله: اے زما رَبّه! زما په عِلم کښې اضافه اوفرمايې. نو **الله** پاک د هغوئي دا دُعا قبوله کړه او د خاصو رازونو عِلم ورعطا کولو د پاره يــې د معراج د پاره اوبللو. (1)

## ستاسو حدونه په عقل کښې نه راځي

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** دلته يوه ډيره ايمان تازه کوونکې نکته ده، د معراج د سفر رڼا کښې د مصطفٰے کريم صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عِلم په فراخ والي لږ ځان پوهه کړئ! حضرت کعبُ الاَحبار رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہ فرمائي: سِدرَۃُ المنتھیٰ هغه مقام دے چې د ټولو فرښتو، نبيانو او رسولانو عِلم تر هغه ځايه پورې دے، د هغې نه مخکښې څه دي؟ د دې عِلم د **الله** پاک نه علاوه د بَل چا سره نشته. (2)

اَللّٰہُ اَکْبَر! معلومه شوه چې سِدرَۃُ المنتھیٰ هغه مقام دے چرته چې د ټولو فرښتو، نبيانو او د رسولانو د عِلم انتها اوشي خو زما او ستاسو د آقا، رسولُ الله صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم شان ته اوګورئ! رَبِّ کريم هغوئي صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د سِدرَۃُ المنتھیٰ نه هم وړاندې اوبللو او د هغه خبرو عِلم يــې ورته هم عطا کړو، چرته چې د بَل چا رَسَد نه وو.

اعلیٰ حضرت، اِمام احمد رضا خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ ليکي:

طُورِ موسیٰ، چرخِ عیسیٰ | کیا مُساوِیٔ دَنیٰ ہو
سب جہت کے دائرے میں | شش جہت سے تم وَرا ہو

---

1...کتاب المعراج للقُشَیْرِی، باب ما قال الشیوخ المتصوفه... الخ، صفحہ:113 ملخصًا۔
2... تفسیر در منثور، پارہ:27، سورۂ نجم، زیرِ آیت:14، جلد:7، صفحہ:650۔

سب کی ہے تم تک رسائی | بارگہ تک تم رسا ہو(1)

وضاحت: حضرت موسیٰ علیہ السّلام په کوهِ طُور باندې د رَبِّ کريم کلام واوريدو، حضرت عيسیٰ علیہ السّلام په څلورم آسمان باندې تشريف فرما دے، دا ډيرې اوچتې مرتبې دي خو د خوږ آقا صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم شان ته اوګورئ! هغوئي رَبِّ کريم لامکان ته اوبللو او مقامِ دَنیٰ (يعنې ډير قربت يې ورعطا کړو) او اوچت شانونه يې ورعطا کړل. د دې نه معلومه شوه چې د ټول مخلوق د پاره يو حد ټاکلے شوے دے خو زمونږه خوږ آقا صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم د حد د دائرې نه هم بره هغه ځائے ته تشريف يوړلو، په کوم ځائے باندې چې "چرته، کوم ځائے" هيڅ هم نه وو. د ټولو رسائي يعنې رَسَد تر محبوبِ خُدا صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم پورې دے، يو محبوبِ ذيشان صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم دے، چا ته چې د رَبِّ کريم په بارګاه کښې د حاضرۍ سعادت نصيب شو.

اَوج پانا مرے حُضُور کا ہے | عرش جانا مرے حُضُور کا ہے
عرش سے بھی پرے وہ ہو آئے | آنا جانا مرے حُضُور کا ہے

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## څه عِلم يې ورعطا کړو؟ څومره يې ورعطا کړو؟

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د معراج سفر د عِلم سفر وو. اللّٰه پاک خپل محبوب صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم خاص قرب ته اوبللو او علوم يې ورعطا کړل، څنګه څنګه رازونه اووئيلے شول، د دې عِلم د چا سره هم نشته. مونږ ته بس دومره وئيلے شوي دي چې

فَاَوْحٰۤى اِلٰى عَبْدِهٖ مَاۤ اَوْحٰى ؕ﴿۱۰﴾

(پارہ27،سورۃ النجم:10)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: بيا هغه د خپل بنده طرف ته وحي اوفرمائيله چې څه وحي ئې اوفرمائيله (۱۰)

---

1…حدائقِ بخشش، صفحہ342ملتقطاً۔

قَصرِ دَنٰی کے راز میں، عقلیں تو گم ہیں جیسی ہیں
رُوحِ قُدُس سے پوچھئے! تم نے بھی کچھ سُنا کہ یُوں(1)

**وضاحت:** په مقامِ دَنیٰ (يعنې د **اللّٰه** پاک په خاص قرب کښې) د راز څه خبرې اوشوې، څنګه څنګه علوم محبوبِ ذیشان صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته ورعطا کړے شول، په دې باره کښې عقل ورک شي، عقل خو پرې هيڅ نه پوهيږي، لږ د جبريل عَلَيۡهِ السَّلَام نه معلومه کړئ! اے د فرښتو سرداره! اے د وَحي امينه! حضرت جبريل عَلَيۡهِ السَّلَام! آيا تاسو څه واوريدل چې هلته د راز کومې کومې خبرې اوشوې...؟

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** **اللّٰه** پاک د معراج په شپه خپل محبوب صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته څومره عِلم ورعطا کړو؟ د هغې خو هيڅ خبر نشته، البته د بعضې روايتونو نه څه داسې اندازه لګي. **چنانچه په روايت کښې دي:** خوږ مَـدَني آقا صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اُوفرمائيل چې کله زه د معراج په شپه پردهٔ غيب ته اورسيدلم نو زما په خُله (مبارَکه) کښې يو څاڅکے اوکړے شو کوم چې د واورې نه زيات يخ او د کستورۍ نه زيات خوشبوئي داره وو، په هٰغه څاڅکي کښې د اَوَّلِين او آخرين (يعنې د تيرو شوو او راروانو) علم موجود وو کوم چې زما په زړه کښې راتوئي کړے شو. (2)

د هُم دې مفهوم يو حديثِ پاک په ترمذي شريف کښې دي، چې په هغې کښې خوږ آقا، مکی مَدَنی مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: چې د مشرق و مغرب په مينځ کښې چې څه دي د هغه ټول علم ما ته حاصل شو. (3)

---

1...حدائقِ بخشش، صفحہ:93۔
2...نَادِرُ المعراج، باب بست و ششم دربیان رسیدن...الخ، فصل سوم، صفحہ:277ملتقطاً۔
3...ترمذی، کتاب تفسیر القرآن، باب و من سورۃ ص، صفحہ:747، حدیث:3234۔

| | |
|---|---|
| عالَم میں کیا ہے جس کی کہ تجھ کو خبر نہیں | ذرّہ ہے کون سا تری جس پر نظر نہیں |
| یہ عِلمِ غیب ہے کہ رسولِ کریم نے | خبریں وہ دِیں کہ جن کی کسی کو خبر نہیں |
| معراج میں خُدا نے بُلایا انہیں جہاں | واللہ! اس جگہ پہ کسی کا گزر نہیں |

## د عِلمِ دِین د پاره سَفَر اوکړئ!

**خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** مونږه واریدل چې د معراج سفر د عِلم سفر دے. په دې کښې زمونږ د پاره هم سبق دے، مونږ له هم پکار دي چې د عِلمِ دِین زده کولو د پاره سفر کوو. د دې ډیر برکتونه دي. حضرت کَثِیر بن قَیس رحمۃُ اللہ علیہ فرمائي: زه د دِمشق په جومات کښې د صحابئ رسول حضرت ابو درداء رضی اللہ عنہ په خدمت کښې حاضر ووم، هغه وخت د هغوئي خوا له یو کَس راغے، هغه عرض اوکړو: اے ابو درداء رضی اللہ عنہ ! زه خبر شوے یم چې تاسو د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم یو حدیث بیانوئ، زه د هغه **حدیثِ پاک** زده کولو د پاره د مدینے منورې نه راغلے یم.

(اللہ اکبر! د عِلمِ دِین د شوق اندازه اولګوئ! د مدینے منورې نه د دمشق پورې د یو زر [1000] کلومیټره نه زیاته فاصله ده او په هغه وخت کښې خو ګاډي او جازونه هم نه وو، پیدل یا په خاروو به سفر کیدو، دې صاحب د دومره لرې نه سفر اوکړو او راغے او په څه پسې راغلے وو؟ واورئ!) حضرت ابو درداء رضی اللہ عنہ اوفرمائیل: آیا تهٔ د تجارت د پاره نه یې راغلے؟ عرض یې اوکړو: نهٔ. اوئې فرمائیل: د تجارت نه عِلاوه (په دمشق کښې) که ستا بَل څه کار وي، د کوم د پاره چې تهٔ راغلے یې؟ عرض یې اوکړو: نهٔ (زه خو صرف د حدیثِ رسول صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم زده کولو د پاره د دومره لرې نه حاضر شوے یم، د دې نه علاوه زما بَل هیڅ مقصد نشته). په دې باندې حضرت ابو درداء رضی اللہ عنہ د عِلمِ دِین د طالب علم فضیلتونه بیان کړل او اوئې فرمائیل: ما د **اللہ** پاک د آخري نبي، رسولِ هاشمي صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم نه دا اوریدلي دي: ❁ څوک چې د عِلمِ (دِین) زده کولو د پاره په یوه لاره روان شي، **اللہ** پاک د هغه د پاره د جنّت لاره آسانوي ❁ بے شکه

فرښتې د عِلمِ (دِين) د طالبِ عِلم نه خوشحاليږي او د هغه د پاره خپلې وزَرې خوروي. ❁ بے شکه د زمکې او آسمان ټول مخلوق، تر دې پورې چې په اوبو کښې مهيان [کبان] هم د عِلمِ (دِين) د طالبِ علم د پاره د بخښنې دعاګانې کوي ❁ بے شکه د عالِم فضيلت په عبادت ګزار باندې داسې دے لکه څنګه چې د څوارلسمې د سپوږمۍ فضيلت په ستورو باندې دے ❁ **بے شکه عُلَماء د انبياؤ وارثان دي،** بے شکه انبيائے کرام عَلَيهِمُ السَّلَام په وراثت کښې درهم او دينارونه (يعنې مال او دولت) نه پريږدي، انبيائے کرام عَلَيهِمُ السَّلَام خو په وراثت کښې صرف عِلم پريږدي، **پس چا چې عِلمِ (دِين) حاصل کړو، هغه لويه حصه حاصله کړه.**(1)

سُبْحٰنَ الله! د عِلمِ دِين د طالبِ علم څومره ځانګړې شانونه دي. **الله** پاک دې مونږ ته هم د عِلمِ دِين زده کولو، د ډيرو ډيرو ديني کتابونو لوستلو او د عِلمِ دِين په خاطر د سفر کولو توفيق رانصيب کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

## په مَدَني قافلو کښې سَفَر کوئ!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُ لِله! دعوتِ اِسلامي د عِلمِ دِين فيضان عام کولو والا دِيني تحريک دے. د دعوتِ اِسلامي والا عاشقانِ رسول سره په مَدَني قافلو کښې سَفَر د عِلمِ دِين زده کولو او د عِلمِ دِين د سفر برکتونو حاصلولو بهترينه ذريعه ده. ❁ اَلْحَمْدُ لِله! په ټوله دُنيا کښې د دِين پيغام عام کولو د پاره لکونه عاشقانِ رسول د مَدَني قافلې په شکل کښې ملک په ملک، ښار په ښار، کلي په کلي سفر کوي او د نيکۍ دعوت عام کوي ❁ د مَدَني قافلو په برکت باندې ډيرو کافرانو کلمه وئيلې ده او مسلمانان شوي دي ❁ د لکونو خلقو په ژوند کښې د نيکو سپرلے راغلے دے ❁ اَلْحَمْدُ لِله! د 3 ورځو، 12 ورځو، يوې مياشت او 12 مياشتو قافلې سفر کوي.

---

1...ترمذی، ابواب العلم، باب ماجاء فی فضل الفقه...الخ، صفحه: 631، حدیث: 2682۔

❁ **تاسو هم په مَدَني قافله کښې سفر کوئ!** اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! ډېر برکتونه به مو نصيب شي ❁په مَدَني قافله کښې فرض عِلمِ دِين ښودلے کېږي ❁ سُنَّت ښودلے کېږي ❁د تهجدو کولو سعادت نصيب کېږي ❁ د نيکئ د دعوت عام کولو موقع ميلاويږي ❁د مَـدَني قافلې په برکت سره د مُرادونو پوره کيدو، ❁د مشکلاتو لرې کيدو ❁د بيمارو نه د شفا نصيب کيدو هم ډېر واقعات دي ❁داسې هم شوي دي چې په مَدَني قافله کښې د سفر کوونکو عاشقانِ رسول د ډاډګيرنې د پاره خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کرم فرمائيلے دے، په خوب کښې يې تشريف راوړے دے او په قافله کښې برخه اخستونکو ته يې خپل ديدار کړے دے. ❁ مونږ له هُم پکار دي چې په مَدَني قافله کښې سفر اوکړو، څه پته په مونږ باندې هم کرم اوشي.

آؤ مدنی قافلے میں ہم کریں مل کر سفر | سنّتیں سیکھیں گے اس میں ان شاء اللہ سر بسر

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## (3): د معراج سفر او د بندګئ درس

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د معراج د سفر په حکمتونو کښې علمائے کرام دا هم فرمائي چې **دا سفر د بندګئ سفر وو.** شيخ ابو علي دَقَّاق رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: **الله** پاک رسولِ ذيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دنيا ته راوليږلو د پاره د دې چې خلق د هغوئي نه د عبادت طريقې زده کړي او د معراج په شپه يې آسمانونو ته اوبللو د پاره د دې چې خلق د هغوئي نه د بندګئ آداب زده کړي. (1)

يعني **الله** پاک زمونږه **رَبّ** دے، مونږه د هغه عبد (يعني بندګان) يو، د هغه د بنده

1...کتاب المعراج للقُشَيْرِی، باب ذکر الاسئلة فی المعراج، صفحہ:69۔

جوړيدو هم څه آداب دي. نن سبا په اَخلاقو او آدابو باندې ډيرې خبرې کيږي. ❀ د مور پلار آداب ❀ د اولاد آداب ❀ د مريض او ډاکټر آداب ❀ د دکاندار او ګاهک آداب ❀ د خوراک څښاک آداب ❀ د ګرځيدو آداب ❀ د اوده کيدو آداب ❀ د هر څيز ❀ هر منصب ❀ هرې عهدې بيل بيل آداب دي. غرض دا چې ❀ مونږ چې څه هم يو ❀ په څه منصب باندې هم يو ❀ په څه عهده باندې هم يو ❀ زمونږ چې په معاشره کښې څه حيثيت هم دے، د دغه ټولو نه مخکښې مونږه عَبدُ الله (يعني د الله پاک بندګان) يُو نو د دې بندګئ هم آداب دي. هغه آداب هم زده کول دي. **الله** کريم په خپل محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې معراج اوکړو، په دې ټول سفر کښې په هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې د عَبدِيَّت غلبه وه او **په دې کښې حکمت دا دے چې مونږه د معراج د سفر حالات اولولو، د هغې روايتونه واورو او د هغې نه د بندګئ آداب زده کړو.**

## د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يو خاصيت

هم دغه وجه ده چې په قرآنِ کريم کښې په کوم کوم ځائے کښې د معراج ذِکر شوے دے، هلته د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د بندګئ د خاصيت ذِکر هُم شوے دے.

سُبۡحٰنَ الَّذِیۡۤ اَسۡرٰی بِعَبۡدِہٖ (پاره:15، بنی اسرائیل:1)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ الْعِرفان: پاک دے هُغه ذات چا چې په خپل خاص بنده د شپې په څه حِصَّه کښې سيل اوکړو

په سورۀ نجم کښې د معراج ذِکر شوے دے، هلته هم فرمائيلے شوي دي:

فَاَوۡحٰۤی اِلٰی عَبۡدِہٖ (پاره27، سورۃالنجم:10)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ الْعِرفان: بيا هغه د خپل بنده طرف ته وحي اوفرمائيله

په روايت کښې دي: د معراج په شپه چې کله خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني

مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اللّٰه پاک په بارګاه کښې حاضر شو نو اللّٰه پاک اوفرمائيل: بِمَ اُشَرِّفُكَ يعنې اے خوږه محبوبه صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! نن تاسو ته کوم شرف عطا کړم؟ عرض يې اوکړو: اے رَبِّ کريمه! ما ته خپل طرفته د بندګۍ نسبت عطا کړه. په دې باندې اللّٰه پاک دا آيت مبارک نازل کړو، ارشاد اوشو: (1)

سُبْحٰنَ الَّذِیْۤ اَسْرٰى بِعَبْدِهٖ (پاره:15، بنی اسرائیل:1)

[مفهوم] ترجمۀ کنز العرفان: پاک دے هغه ذات چا چې په خپل خاص بنده د شپې په څه حِصَّه کښې سيل اوکړو

الله! الله! خوږو او محترمو اسلامي ورونو! د اللّٰه پاک بندګان خو ټول دي، زه هم د اللّٰه بنده يم، تاسو هم د اللّٰه بندګان يئ خو دا زمونږه او ستاسو د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خصوصي شان دے چې رَبِّ کريم هغوئي ته د عَبْدِهٖ يعنې خپل خاصُ الخاص [يعنې په خاصو کښې خاص] بنده فرمائيلے دے. په قرآنِ کريم کښې بَل هيچا ته هم دا خطاب نۀ دے عطا شوے.

## د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عبديّت شان

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! دا (يعنې عبدُهٗ کيدل) ډير اعلیٰ شان دے. علمائے کرام فرمائي: که د انسان د پاره د دې نه اوچت څه مقام وے نو په هغه قُربِ خاص کښې به رسولِ ذيشان صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته هم هغه مقام عطا شوے وو. (2) ډاکټر اِقبال وائي: (3)

پَيْشِ اُوْ گِيتی جَبِيْں فَرْسُوْدَه اَسْت | خَوَيْش رَا خُوْد عَبْدُهٗ فَرْمُوْدَه اَسْت

مفهوم: دا رسولِ کائنات صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دے، د چا په حُضُور کښې چې ټول کائنات

1... تفسیرِ کبیر، پارہ:15، سورۂ بنی اسرائیل، زیرِ آیت:1، جلد:7، صفحہ:292۔
2... کتاب المعراج للقُشَیْری، باب ذکر لطائف المعراج، صفحہ:100 بتصرف۔
3... کلیاتِ اقبال فارسی، جاوید نامہ، فلک مشتری، صفحہ:601، 602 ملتقطاً۔

سر ټيټ کړو. **الله** پاک هغوئي ته پخپله **عَبۡدُهٗ** (يعني خاص الخاص بنده) فرمائيلے دے.

عَبۡد دِيۡگر عَبۡدُهٗ چِيۡزَے دِگر | مَا سَراپا اِنۡتِظَار اُوۡ مُنتظِر

**مفهوم:** ياد ساتئ! عبد (بنده) بيل څيز دے، **عَبۡدُهٗ** (يعني خاصُ الخاص بنده) کيدل څه بل غوندې شان دے. عبد (يعني بنده) سراسر انتظار وي خو **عَبۡدُهٗ** هغه دے د چا چې انتظار کيږي.

عَبۡدُهٗ چَنۡد و چِگُوۡنِ کَائِنَات | عَبۡدُهٗ رَازِ دَرُوۡنِ کَائنَات

**مفهوم:** **عَبۡدُهٗ** (يعني خاصُ الخاص بنده) د کائنات حقيقت دے، **عَبۡدُهٗ** د دې کائنات راز دے چې که هغه نه وے نو کائنات به هم نه وے.

وہ جو نہ تھے تو کچھ نہ تھا، وہ جو نہ ہوں تو کچھ نہ ہو | جان ہیں وہ جہان کی، جان ہے تو جہان ہے(1)

## د بندګئ يو څو آداب

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د دې ځائے نه مونږ ته سبق ميلاؤ شو چې مونږ ته د **الله** پاک بنده جوړيدل دي. د انسان وړومبئ او آخرئ مرتبه هم دا ده. لهٰذا دې دُنيا ته د راتلو سره که مونږ څه بَل څه جوړ شو يا جوړ نه شو، البته په صحيح معنو کښې عَبۡدُ الله خو ضرور جوړيدل پکار دي. مونږ ته په صحيح معنو کښې د عَبۡدُ الله (د الله بنده) جوړيدو د پاره څه کول دي؟ هسې خو دا يوه پوره موضوع ده، علمائے کرامو په دې باندې پوره پوره کتابونه ليکلي دي. البته دلته يو څو خبرې عرض کووم، که چرې مونږ دا خبرې اختيار کړو نو اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡکَرِیۡم! په صحيح معنو کښې به په عَبۡدُ الله جوړيدو کښې کامياب شو.

---

1...حدائقِ بخشش، صفحہ:178۔

## د بندګۍ بعضې آداب

(1): وړومبۍ خبره خو دا ده چې په صحيح معنو کښې د **الله** پاک بنده هغه کيدے شي څوک چې په کثرت سره د **الله** پاک عبادت کوي، لهٰذا په کثرت سره د عبادت کولو عادت جوړ کړئ! ❀ مونږ له پکار دي چې پينځه واړه نمونځونه د جمعې سره په جومات کښې ادا کوو ❀ نفلونه کوو ❀ د تهجد، اشراق او څاښت او اوابينو نفلونه هم ادا کوو ❀ تلاوت هم کوو ❀ دُرُودِ پاک هم لولو ❀ په کثرت سره ذِکرُ الله هم کوو ❀ نفلي روژې هم نيسو. غرض دا چې پکار ده چې زيات عبادت کوو. (2):بيا د دې سره سره دا هم ضروري دي چې خپلو عبادتونو ته نۀ په طمع کيږو، ځان عبادت ګزاره نه ګڼو. علمائے کرام فرمائي: **په صحيح معنو کښې عبد [بنده] هغه دے څوک چې په عبادتونو کښې پوره مشغول اوسي خو خپل عبادت د وربشې د دانې برابر هم نه ګڼي.** [1] بس هميشه خپل ځان ګنهګار، ډير عاجزه او کمزورے ګڼل پکار دي.

## د بخښنې يو سبب

د عرب يو ډير مشهور شاعر تير شوے دے: فَرَزدَق. يو ځل دے د اِمام حسن بصري رحمۃ اللہ علیہ په خدمت کښې حاضر وو. اوئې وئيل: دا وخت بدترين بنده او بهترين بنده په دې ځائے کښې راجمع دي. چا پوښتنه اوکړه: بهترين څوک دے؟ اوئې وئيل: اِمام حسن بصري. چا ترينه پوښتنه اوکړه: بدترين څوک دے؟ فَرَزدَق اووئيل: بدترين زه يم. چې کله هغه وفات شو نو چا په خوب کښې اوليدو او پوښتنه يې ترينه اوکړه: څه درباندې تير شول؟ اوئې وئيل: زه د **الله** پاک په بارګاه کښې پيش کړے شوم. اعمال نامه مې برسيره شوه، په هغې کښې ګناهونه اوشميرلے شو، بيا ما سوچ کولو چې زه خو

---

1...تحفۃ المعراج، صفحہ:204۔

هلاک شوم. (خو د رحمان رَبّ د رحمت نه قربان شم) د دواړو جهانونو رَبّ اوفرمائيل: لا ړ شه! ما تهٔ هُم په هٔغه وخت بخښلے وې کله چې تا ځان بدترين ګڼلے وو.[1]

سُبْحٰنَ الله! غرض مونږ له دا دواړه کارونه کول پکار دي: (1): چې عبادت په کثرت سره کوو (2): او خپل عبادتونه هيڅ هُم نه ګڼو. بَس د الله پاک په رحمت نظر ساتو.

## (3): صِرف د رَبّ شئ!

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د الله پاک د حقيقي بنده يعنې په صحيح معنو کښې د عَبدُ الله جوړيدو د پاره دريمه خبره دا ضروري ده چې بنده د هر څيز نه کټ شي او صرف د رَبّ شي. د معراج شريف په روايت کښې دي: چې کله سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د الله پاک په بارګاه کښې حاضر شو نو الله پاک اوفرمائيل: اے خوږه محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! اَنَا وَ اَنْتَ يو زه يم، يو تاسو يئ. وَ مَا سِوَاكَ خَلَقْتُ لِاَجْلِكَ ستاسو نه علاوه په کائنات کښې چې څه هم دي، هغه ټول ما ستاسو د پاره پيدا کړي دي.[2]

سُبْحٰنَ الله! خومره ښکلے شان دے زما د آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ...!! د الله پاک د هغوئي سره محبت ته اوګورئ! د الله پاک نه علاوه چې څه هم دي، زمکه، آسمان، سپوږمئ، ستوري، نمر، کهکشاګانې، دا ښکلې فضاګانې، انسان، پيريان، فرښتې هر څه الله پاک د خپل محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاره جوړ کړي دي. ځکه خو اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکي:

زمین و زماں تمہارے لئے، مکین و مکاں تمہارے لئے چنین و چُناں تمہارے لئے، بنے دو جہاں تمہارے لئے
دَہن میں زباں تمہارے لئے، بدن میں ہے جاں تمہارے لئے ہم آئے یہاں تمہارے لئے، اُٹھیں بھی وہاں تمہارے لئے (3)

---

1... تحفۃ المعراج، صفحہ:147۔
2... مکتوباتِ امامِ ربانی، دفتر دوم، حصہ اوّل، مکتوب:7، جلد:2، صفحہ:855۔
3... حدائق بخشش، صفحہ:348۔

دا د **اللّٰه** پاک د خپل محبوب صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره کمال محبت دے. بیا زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم څه عرض کړل؟ واورئ! اَللّٰهُمَّ اَنْتَ وَ مَا اَنَا اے **اللّٰه** پاکه! یو هُم تهٔ خو یې زه نه یم. وَ مَا سِوٰى ذٰلِكَ تَرَكْتُ لِاَجَلِكَ او د دې نه علاوه چې څه هم دي ما ستا د رضا د پاره پریښودل. (1)

سُبْحٰنَ الله! دا دے زما د آقا صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عبدِیَّت شان او د بندګئ کمال...!! محبوبِ ذیشان صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هر څه د خپل رَبّ د رضا د پاره پریښودل. یو مونږ یو مونږه یو څو روپۍ نشو پریښودے، د نـمونځ په وخت د لسو منټو د پاره دکان نشو بندولے ❀ د نوکرئ په بهانه نـمونځونه قضا کوي ❀ د **اللّٰه** پاک د رضا د پاره خوب نشو قربانولے ❀ د **اللّٰه** پاک د رضا د پاره وخت نه اوباسو، د نیکو کارونو د پاره وخت نشو ویستلے ❀ **اللّٰه** پاک د سود خورو سره د جنګ اعلان فرمائیلے دے، خومره داسې خلق دي کوم چې په لالچ کښې راشي او د سود لین په دین کښې اخته شي ❀ ګناهونه نه پریږدو ❀ د **اللّٰه** پاک د نافرمانئ نه ویریدل او د موبائل او سوشل میډیا غلط استعمال نشو پریښودے ❀ خیالونه مو ډیر لوئي لوئي دي، بس په هغې پسې وروستو منډې وهو، موټر هم اخستل دي، بنګله هم جوړول دي، بینک بیلنس هم زیاتول دي، د لوئي نه لویه عهده هم حاصلول دي، د نیکو کارونو د پاره راسره هډو وخت نه وي.

کاش چې مونږ په صحیح معنو کښې د **اللّٰه** پاک بندګان جوړ شو. د **اللّٰه** پاک د رضا والا کارونه زمونږ د ژوند مقصد جوړ شي. کاش چې د بندګئ ذوق رانصیب شي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

---

1...مکتوباتِ امامِ ربانی، دفتر دوم، حصہ اوّل، مکتوب:7، جلد:2، صفحہ:855۔

# د معراج د سفر ښکلې تحفه

د معراج د شپې ډېره ښکلې تحفه ده: **نـمونځ**. د بندګۍ د حق ادا کولو د پاره کم از کم چې مونږ د نـمونځ پابندي خو کوو. کاش چې نن مونږه دا نيت اوکړو چې د دې ځائے نه پاځم نو په صحيح معنو ښکلې به د **الله** پاک د بنده جوړيدو د پاره د **الله** پاک هر حکم منم او خاص طور نـمونځ خو به هيڅکله هُم نه قضا کووم. په روايتونو کښې دي: زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلَّی اللهُ علیهِ واٰلهٖ وسلَّم د معراج په شپه د داسې خلقو خوا له تشريف يوړلو د کومو سرونه چې په کاڼو چقولے کيدل، چې کله به هم د هغوئي سر اوچقولے شو هغوئي به د مخکښې په شان ټيک شول او دا سلسله هم دغه شان روانه وه نو هغوئي صلَّی اللهُ علیهِ واٰلهٖ وسلَّم پوښتنه اوکړه: اے جبريله! دا څوک دي؟ عرض يـې اوکړو: دا هُغه خلق دي د کومو سرونه چې به په **نـمونځ** کولو درنيدل (يعنې فرض نـمونځونه به يـې پريښودل). [1]

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! که سر معمولي شان زخمي شي نو بنده ناقلاره وي نو مَعَاذَ الله! **د نـمونځونو قضا کولو** په وجه که د بيلمانځه کس نازک سر فرښتو په کټه چقول شروع کړو نو د هغه به څه کيږي! **کاش! کاش! کاش!** چې ټول مسلمانان پاخه نـمونځ ګزاره جوړ شي.

| | |
|---|---|
| ہو گی دنیا خراب، آخرت بھی خراب | بھائیو! تم کبھی چھوڑنا مت نماز |
| بے نمازی جہنّم کا حقدار ہے | بھائیو! تم کبھی چھوڑنا مت نماز |
| قبر میں سانپ بچھو لپٹ جائیں گے | بھائیو! تم کبھی چھوڑنا مت نماز |
| سہہ سکو گے نہ دوزخ کا ہرگز عذاب | بھائیو! تم کبھی چھوڑنا مت نماز |

1...مسند بزار، جلد:17، صفحہ:5، حدیث:9518۔

دیکھو! اللہ ناراض ہو جائے گا | بھائیو! تم کبھی چھوڑنا مت نماز

## د سر چقولو سزا

د **سحر** نمونځ ته نه راپاڅیدونکو، د نمونځ وخت په اودو تیروونکو د خطرناکې سزا حال واورئ او توبه کړئ. د مدینے سرکار، د مکے سردار صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم ته اوفرمائیل: بیګاه شپه دوه ګسان (یعنې جبریل او مکائیل علیهما السّلام) زما خوا له راغلل او زه یې اَرضِ مُقدَّس (یعنې بیتُ المُقدس) ته بوتلم. [1] ما اولیدل **چې یو ګس ملاست دے او د هغه سر ته یو ګس ګټه په لاس ولاړ دے او بیا بیا په هغه ګټه د هغه سر چقوي.** ما هغه فرښتو ته اووئیل: سُبْحٰنَ الله! دا څوک دے؟ هغوئي عرض اوکړو: وړاندې تشریف یوسئ! (د نورو مناظِرو ښودلو نه پس) فرښتو عرض اوکړو: وړومبے ګس کوم چې تاسو اولیدلو (یعنې د چا چې سر چقولے کیدو) **دا هغه وو چې قرآنِ کریم یې لوستلے وو او بیا یې پریښودے وو او د فرض نمونځونو په وخت به اوده کیدو.** [2]

بے نمازی کی نحوست ہے بڑی | مر کے پائے گا سزا بے حد کڑی

## د قضا نمونځونو طریقه رسالې تعارف

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! خدانخواسته که د چا نه نمونځونه قضا شوي وي نو زر تر زره د هغې د کولو ترکیب جوړ کړئ. د قضا نمونځونو د ادا کولو طریقه څه ده؟ د قضا نمونځونو شرعي حکمونه او مسئلې څه دي؟ په دې باره کښې د امیر اهلسنّت مولانا الیاس قادري دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ یوه ډیره فائده منده رساله ده: **د قضا نمونځونو طریقه.** په دې رساله کښې د قضا نمونځونو د طریقې سره سره قضا نمونځ په کوم

---

1...بخاری، کتاب الجنائز، صفحہ:386، حدیث:1386۔
2...بخاری، کتاب التعبیر، باب تعبیر الرؤیا، صفحہ:1714-1715، حدیث:7047ملتقطاً۔

وخت کښې ادا کول پکار دي؟ قضائے عمري څه ته وئيلے شي؟ او د قضا نـمونځونو په باره کښې فائده مند معلومات شامل دي. هم نن د مکـتبة الـمدينه نه دا رساله اوغواړئ او دا اولولئ! الله پاک دې مونږ ته د عِلمِ دين زده کولو او په هغې باندې د عمل کولو توفيق راعطا کړي. اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم.

## د عطياتو ترغيب

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! دعوتِ اِسلامي په ټوله دنيا کښې د نيکئ دعوت عام کوونکے ديني تحريک دے. د الله پاک په فضل سره ❀ دعوتِ اِسلامي د اتياؤ [80] نه زياتو شعبو کښې ديني فريضې ترسره کوي ❀ دعوتِ اِسلامي تر اوسه پورې په زرګونو جوماتونه، په سوونو فيضانِ مدينه (مَدَني مرکزونه) جوړ کړي دي ❀ماشومانو هلکانو او ماشومو جينکو ***(Boys & Girls)*** ته د قرآنِ پاک بيل بيل تعليم ورکولو د پاره تر اوسه پورې تقريباً 12 زره 699 مدرسة الـمدينه جوړې کړے شوي دي، په کومو کښې چې تقريباً 3 لاکه 73 زره 729 ماشومانو هلکانو او ماشومو جينکو ته د قرآنِ کريم د حفظ او ناظرې مفت تعليم ورکولے شي. (نوټ: په دې رپورټ کښې مدرَسَةُ الْمَدينه شارټ ټائم مدارس هُم شاملې دي) ❀ د عِلم خپرولو (د عالِم او عا لِـمې کورس کولو) د پاره بيلې بيلې جامعة الـمدينه جوړې کړے شوې دي. تر اوسه پورې تقريباً 1500 جامعة الـمدينه (د هلکانو او جينکو د پاره) جوړې کړے شوې دي، په کومو کښې چې تقريباً 1 لاکهه 24 زره جينکو او هلکانو طالب علمانو ته د درسِ نظامي (د عالِم او عالِـمې کورس) مفت تعليم ورکولے شي. اوسه پورې تقريباً 31 زره او 211 عالِم او عالِـمه کورس مکمل کړے دے ❀ د شرعي رهنمائي د پاره په پاکستان کښې تر اوسه پورې 17 دارُ الافتاء اهلِسُنَّت قائمې کړے شوي دي، چرته چې مفتيانِ کرام د اُمَّت په شرعي لار ښودنه کښې مصروف دي په دې کښې سالانه اوسطاً تقريباً د 1 لاکهه 70 زره سوالونو

جوابونه (په مختلف انداز کښې مثلًا مخامخ، د فون په ذریعه، د واټس ایپ او اي میل وغیرها په ذریعه) ورکولے شي. او ❀ په الـمدینةُ العلمیه کښې په مختلفو موضوعاتو باندې 932 دیني کتابونه چاپ کړے شوي دي او دا سلسله لا روانه ده ❀ اَلْحَمْدُ لِلّٰه **مَدَني چینل** په اُردو، انګلش او بنګالئ ژبو کښې په سیټیلائټ باندې او په ویب باندې عربي چینل هُم د دین په خدمت کښې مصروف دي.

**تاسو هم د دین د خِدمت په دې کار کښې خپله حصه شامِله کړئ! خپل عطیات دعوتِ اِسلامي له ورکړئ، ستاسو چنده په هر قِسمه جائز، دیني، اصلاحي، فلاحي، روحاني او د خیر ښیګړې په کارونو کښې لګیدے شي.**

**الله** پاک په قرآنِ کریم کښې فرمائي:

وَ مَا لَكُمْ اَلَّا تُنْفِقُوْا فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ وَ لِلّٰهِ مِیْرَاثُ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِؕ
(پاره: 27، سورۂ حدید: 10)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ الْعِرفان: او په تاسو څه شوي چې تاسو د **الله** په لاره کښې [مال] خرچ نه کړئ حالانکه د آسمانونو او زمکې ټولو وارِث هُم **الله** دے.

د دې آیت لاندې په تفسیر صراط الـجنان کښې دي: تاسو په کومه وجه د **الله** پاک په لاره کښې نه خرچ کوئ حالانکه د آسمانونو او د زمکې او هر څه مالک **الله** پاک دے هغه همیشه پاتې کیدونکے دے خو تاسو به مړه شئ او ستاسو مال به د هغه په ملکیت کښې پاتې شي او تاسو ته به د نه لګولو په شکل کښې ثواب هم نه میلاویږي، ستاسو د پاره بهتره دا ده چې تاسو خپل مال د **الله** پاک په لاره کښې اولګوئ د پاره د دې چې د دې په بدله کښې ثواب حاصل کړئ. (1)

معلومه شوه! چې د **الله** پاک په لاره کښې مال لګولو کښې زمونږه فائده ده. که چرې مونږه د دین مالي خدمت پریږدو نو جوماتونه به څنګه جوړیږي؟ لګونه حافظان

---

1... تفسیر صراط الجنان، پاره:27، سورۂ حدید، زیرِ آیت:10، جلد:9، صفحه:721۔

به څنګه تیاریږي؟ په زرګونو عالِـمان، د اتیاؤ [80] نه زیاتې دیني شعبې به څنګه کار کوي؟ اَلْحَمْدُ لِلّٰه! دعوتِ اِسلامي د دین خدمت کوي، دعوتِ اِسلامي **جوماتونه جوړ کړئ تحریک** هم دے، دعوتِ اِسلامي **جوماتونه ډک کړئ تحریک** هم دے او د **الله** پاک په فضل سره دعوتِ اِسلامي **ایمان بچ کړئ تحریک** هم دے. دعوتِ اِسلامي زمونږه نسلونه بچ کوي. کور کور ته د نیکئ دعوت رسوي او کورونه د امن نه ډَکوي. که چرې مونږه د دعوتِ اِسلامي ملاتړ اوکړو نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! د دې فائده به مونږ او زمونږ نسلونو ته رَسي. لٰهٰذا هِمت اوکړئ! د زړه د اِخلاصه د **الله** پاک په لار کښې مال اولګوئ! د دعوتِ اِسلامي ملاتړ اوکړئ! که **الله** پاک اوغوښتل نو د دین او دنیا برکتونه به مو نصیب شي. **الله** پاک دې مونږ ته د دین د خِدمت توفیق رانصیب کړي.

اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللّٰه علیه واٰله وسلَّم.

دعوتِ اسلامی کی قیّوم، سارے جہاں میں مچ جائے دُھوم
اس پہ فِدا ہو بچہ بچہ یا اللہ مری جھولی بھر دے

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## د اوویشتم رَجَب د روژې ترغیب

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** روژه د جسماني صحت ضمانت هم ورکوي او د روحاني صحت ضمانت هم ورکوي. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د رَجَبُ الْمُرَجَّب د برکت نه ډکه میاشت خپل برکتونه تقسیموي، د نفلي روژو د سپرلي موسم دے، مونږ له پکار دي چې د دې برکتي ورځو نه فائده واخلو او ښې روژې اونیسو، ډیرې ډیرې نیکئ هم اوکړو او د روژې نیولو د فضیلت حقدار هم جوړ شو. راځئ چې د ترغیب د پاره د 27 رَجَبُ الْمُرَجَّب د روژې فضیلتونه اورو: حضرت ابو هریره رضی الله عنه فرمائي: څوک چې د 27 رجب روژه اونیسي، **الله** پاک به د هغه

د پاره د شپيتؤ [60] مياشتو د روژو ثواب اوليکي. (1) د حضرت سلمان فارسي رضی اللہ عنہ نه روايت دے: **د الله** پاک **آخري نبي**، مکي مَدَني صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم فرمائيلي دي: په رجب کښې يوه ورځ او شپه ده څوک چې په هغه ورځ روژه اونيسي او د شپې قيام (عبادت) اوکړي نو لکه هغهٔ چې سل [100] کاله روژې اونيولې او دا د رَجَب اوويشتم [27] تاريخ دے. (2)

## د شعبان د روژو فضيلت

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** اَلْحَمْدُ لِلّٰه! شعبان المُعظم هُم تشريف راوړو والا دهٔ. دا مياشت هُم ډيره برکتونو او عظمتونو والا دهٔ، خوږ آقا مکّي مَدَني مصطفٰے صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم به کَثرت سره نفل روژې په هُم دې مياشت کښې نيولې. په دې مبارکه مياشت کښې هُم په کثرت سره د نفلي روژو نيولو نيت اوکړئ! د مسلمانانو خوږه مورجانه حضرت سيدتنا عائشه صديقه رضی اللہ عنہا فرمائي: د **الله** پاک آخری نبی، مکی مَدَنی صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم ما د شعبان نه زيات په بله کومه مياشت کښې په [نفلي] روژو نيولو نه دے ليدلے، هغوئي صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم به سِوا د يو څو ورځو نه [د شعبان] د پوره مياشتې روژې نيولې. (3) (4): يو ځل د هغوئي صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم په دربار کښې تپوس اوکړے شو: د رمضان نه پس کومې روژې افضل دي؟ اوئې فرمائيل: **د رمضان د تعظيم د پاره د شعبان روژې نيول.** (4)

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د عاشقانِ رسول د ديني تحريک دعوتِ اِسلامي په ديني ماحول کښې په شعبان کښې د روژو سپرلے وي، په مختلفو ځايونو کښې د پيشمني اجتماعات هم کيږي، مَاشَآءَ الله! ډير عاشقانِ رسول په کثرت سره روژې

---

1...فضائل شہر رجب للخلال، صفحہ:76، حدیث:18۔

2...شعب الایمان، جلد:3، صفحہ:374، حدیث:3811

3...ترمذی، کتاب:الصوم، باب:ماجاء فی وصال شعبان برمضان، صفحہ:206، حدیث:736-

4...ترمذی، کتاب:زکوۃ، باب:فضیلتِ صدقہ، صفحہ:189، حدیث:663-

نیسي او مسلسل روژې نیسي او د رَمَضَانُ الْمُبَارَك سره میلاو شي. تاسو هم د دعوتِ اِسلامي دیني ماحول ته راشئ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د معراج د فیضان سره سره به مو د شعبان المُعظم او رَمَضَانُ المُبَارَك بنه ډیر برکتونه نصیب شي اللّٰه پاک دې د عمل کولو توفیق رانصیب کړي. اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د اعتکاف ترغیب

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د رَمَضَانُ المُبَارَك میاشت راتلونکې ده. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! رَمَضَانُ المُبَارَك ډیره د برکتونو والا میاشت، د رحمان میاشت، د قرآن د نازلیدو میاشت او د بخښنې میاشت ده.

| | |
|---|---|
| عَجِّلْ عَجِّلْ یَا رمضان | جان مِری تجھ پر قربان |
| آ بھی جا ماہِ سُبْحٰن | جلدی جلدی آ رمضان |
| جب بھی آتا ہے رمضان | جان میں آجاتی ہے جان |
| خوب ہے رمضاں کی بھی شان | اِس میں اُترا ہے قرآن |
| مجھ کو مدینے میں رمضان | کاش! میسر ہو رحمٰن |
| آجا آ بھی جا رمضان | تجھ پہ فِدا عطّار کی جان |

اللّٰه پاک دې مونږ ته د روژې میاشت لیدل، په دې کښې په خیر روژې نیول او ډیر ډیر عبادت کول رانصیب کړي. د روژې د میاشتې یو ډیر اهم عبادت اعتکاف هم دے. نفل اعتکاف خو هر وخت کیدے شي خو کوم اعتکاف چې سنّتِ مؤکده دے، هغه هم په رَمَضَانُ المُبَارَك کښې کیږي. د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه

د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د ټولې مياشتې اعتکاف هم ثابت دے او د آخري عشرې اعتکاف خو زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى الله عَلَيهِ وَالِهٖ وَسَلَّم ډير زيات خوښ وو، هغوئي صَلَّى الله عَلَيهِ وَالِهٖ وَسَلَّم به د آخري عشرې د اعتکاف ډير اهتمام فرمائيلو. تر دې پورې چې يو ځل يـې په څه وجه د رَمَضَانُ الْمُبَارَك اعتکاف اونکړے شو نو هغوئي صَلَّى الله عَلَيهِ وَالِهٖ وَسَلَّم په شوال کښې اعتکاف اوفرمائيلو. (1)

## د اعتکاف فضيلتونه

❁ د مسلمانانو د خوږې مور جانې حضرته عائشه صِدِّيقه رَضِىَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دے: مَنْ اِعْتَكَفَ اِيْمَانًا وَّاِحْتِسَابًا غُفِرَ لَهٗ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهٖ يعني چا چې د ايمان سره او د ثواب حاصلولو په نيت اعتکاف اوکړو د هغه تير ګناهونه به اوبخښلے شي. (2) ❁ **په يو بل حديثِ پاک کښې دي:** چا چې په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې لس ورځې اعتکاف اوکړو هغه داسې دے لکه چې دوه حجونه او دوه عمرې يـې اوکړې. (3)

## د اجتماعي سُنَّت اعتکاف ترغيب

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د عاشقانِ رسول ديني تحريک په ټوله دنيا کښې د نيکۍ دعوت عام کولو کښې مصروف دے، د رمضان د فيضان حاصلولو، د ګناهونو نه د بچ کيدلو او د نيک نـمونځ ګزاره جوړيدو د پاره د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اِسلامي ديني ماحول ته راشئ. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي د څارنې لاندې په ټوله دنيا کښې په زرګونو ځايونو کښې اجتماعي سُنّت اعتکاف هم کيږي، دا کال به

1...بخاری، کتاب الاعتکاف، باب الاعتکاف فی الشوال، صفحہ:533، حدیث:2041۔
2...جَامِع صغیر، صفحہ:516، حدیث:8480-
3...جَامِع صغیر، صفحہ:516، حدیث:8479-

اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم! په ټول پاکستان کښې په 26 مقاماتو کښې د رمضان د ټولې مياشتې اعتکاف کيږي. تاسو هم د روژې ټوله مياشت د اجتماعي اعتکاف کولو نيت اوکړئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! په عالمي مَـدَني مرکز فيضانِ مدينه (کراچئ) کښې به شيخ طريقت اميرِ اهلِ سُنَّت، بانئ دعوتِ اسلامي حضرتِ علامه مولانا محمد اِلياس عطّار قادري رَضَوِي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هُم په اعتکاف کښې تشريف فرما وي. تاسو هُم اعتکاف اوکړئ د وخت د يو وَلِیّ کامِل سره چې د اعتکاف کولو سعادت حاصل کړئ نو د دې برکتونه به هم بل شان وي. اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم! په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې به د ګناهونو نه د بچ کيدو، د نيکو کولو، د نفل عبادتونو شوق زياتيدو سره سره ډير عِلمِ دِين هم زده کړئ، راځئ چې د ترغيب د پاره د اجتماعي اعتکاف يو مَدَني سپرلے واورو:

## د ګناهونو ډک ژوند کښې يې سپرلے راغے

د ډيره الله يار (صوبه بلوچستان، پاکستان) د يو اِسلامي ورور د بيان خلاصه ده: زه مخکښې د ګناهونو په دلدل کښې انښتے ووم، فلمونه کتل او بد نظري وغيره زما خوښ کارونه وو، يو ځل د يو عاشقِ رسول اِسلامي ورور سره زما ملاقات اوشو، هغوئي د محبت نه په ډک انداز کښې ما له په اجتماعي سُنّت اعتکاف کښې د شرکت کولو دعوت راکړو، د هغوئي د حکمت نه ډک او ښکلے انداز چې مې اوليدو نو زما په زړه اثر اوشو او زه د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په اجتماعي اعتکاف کښې د شرکت کولو د پاره فيضانِ مدينه ته لاړم. په اعتکاف کښې د مبلغينو اِسلامي ورونړو د سنتو نه ډکو بيانونو، زړۀ راښکونکو مناجاتو او ژړيدونکو دُعاګانو زما د زړۀ دنيا بدله کړه، ما د تيرو ګناهونو نه توبه کړه او د دعوتِ اِسلامي پاک ديني ماحول ته راغلم، د دې په برکت زما په کردار او خبرو کښې مثبت بدلون راغے، ما عمامه شريفه هم په سر کړه، د سُنّت مطابق مې ګيره مبارکه هم

پرېښوده او اَلْحَمْدُلِلّٰه! د نــمونځونو پابندي مې هم شروع کړه.

| | |
|---|---|
| آئیں گی سُنّتیں، جائیں گی شامتیں | مدنی ماحول میں کر لو تم اعتکاف |
| تم سدھر جاؤ گے، پاؤ گے برکتیں | مدنی ماحول میں کر لو تم اعتکاف |

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## فیضانِ حدیث موبائل ایپلي کیشن

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي آئي ټي ډیپارټمنټ له خوا ډېر فائده مند موبائل ایپلي کیشن په نوم د "فیضانِ حدیث" په ***Play Store*** او ***App Store*** وړاندې کړے شوے دے. په دې ایپلي کیشن کښې د **حدیثِ پاک** مشهور کتابونه مثلاً ❁ مِشْکٰوۃُ الْمَصَابِیْح او د دې آسانه اُردو شرح مِرْاٰۃُ الْمَنَاجِیْح ❁ الأربَعِیْنِ النّوویَّة د اُردو ترجمې او شرحې سره ❁ رِیاضُ الصَّالِحِین د اُردو ترجمې او شرحې سره ❁ أربَعِیْنِ حَنَفِیَّه (اردو) ❁ او مُنْتَخَب اَحَادِیث شامل کړے شوي دي. ❁ د دې ایپلي کیشن په مدد تاسو حدیثونه مبارک په کتابي شکل کښې (یعني د جلدونو په لحاظ سره) هم لوستلے شئ او د مختلفو موضوعاتو په لحاظ سره هم د خپلې خوښې موضوع لوستلے شئ ❁ د سرچ آپشن په مرسته پوره کتاب یا په یو حدیث کښې مختلف لفظونه او ټوله جُمله او د **حدیثِ پاک** د عربئ لفظونه، د هغې ترجمه او په شرح کښې بیل بیل هم لټولے شئ ❁ د **حدیثِ پاک** د عربئ متن د اعراب سره او د اعراب نه بغیر، په دواړه قِسم د کتلو سهولت کېښودے شوے دے ❁ د لوستلو د نوټس ***Notes*** محفوظ کولو د پاره د خوښې د حدیثونو د ***Favorite*** کولو آپشن هم ورکړے شوے دے ❁ د مختلف فاؤنټس ***Fonts*** او د حدیثونو د شیئر ***Share*** کولو سهولت هم ورکړے شوے دے.

هم نن په خپل موبائل کښې دا ایپلي کیشن ډاؤن لوډ کړئ! بچپله هم د **حدیثِ پاک**

فیضان حاصل کړئ! او نورو ته هم ترغیب ورکړئ!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د اوبو څښلو سُنَّت او آداب

**د آخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** د اوښ په شان په یوه ساه کښې مه څښئ بلکې دوه یا درې ځل (یعنې درې ساه ګانو اخستو سره یې) څښئ او د څښلو نه مخکښې بِسْمِ الله لولئ او په فارغیدو اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ لولئ!. [1]

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! که اوبه وي او که د څښلو څه بل څیز ❁ د څښلو نه مخکښې بِسمِ الله لولئ ❁ وړوکے وړوکے ګوټ کوئ، د غټ ګوټ کولو سره د ځیګر بیماري پیدا کیږي ❁ اوبه په دریو ساه ګانو کښې څښئ او په ښي لاس سره یې څښئ ❁ که په لوټه وغیره مو اودس کړے وي نو د هغې نه د پاتې شوو اوبو په څښلو کښې د 70 مرضونو نه شِفا ده چې دا د آبِ زم زم شریف سره مشابهت لري، د دې دوؤ (یعنې د اودس نه د پاتې شوو اوبو او د زم زم شریف) نه علاوه نورې اوبه په ولاړه څښل مکروه عمل دے، دا دواړه قِسمه اوبه قبلې طرف ته د مخ کولو سره په ولاړه څښئ ❁ د څښلو نه مخکښې یې ښه اوګورئ چې د څښلو په څیز کښې څه ضرر رسوونکے څیز خو نشته ❁ د څښلو نه پس اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ لولئ ❁ امام محمد بن محمد غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د بِسْمِ الله وئیلو سره اوبه څښل شروع کوئ، د وړومبئ ساه په آخِره کښې اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ د دویم نه پس اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْن او د دریمې ساه نه پس اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيم لولئ. دا یو ښه کار دے، که اونکړے شو نو هم پکښې څه باک نشته او په شروع

---

[1]...ترمذی، کتاب الاشربۃ، صفحہ:464، حدیث:1885۔

کنبې د بِسۡمِ الله وئیلو او په اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ سره په ختمولو به هم سُنَّت ادا شي ❀ په ګلاس کنبې پاتې شوې د مسلمان پاکې جوټه اوبه د استعمال قابل کیدو باوجود هسې نه دي تویئ کول پکار ❀ منقول دي: سُؤۡرُ الۡمُؤۡمِنِ شِفَاءٌ یعنې د مسلمان په جوټه کنبې شِفا ده ❀ د ښبنلو نه لږ ساعت پس چې خالي ګلاس ته اوګورئ نو د هغې د اړخونو نه به یو څو څاڅکي په بیخ کنبې جمع شوي وي، هغه هم ښبنل پکار دي. [1]

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکـتـبة الـمدینه د بهارِ شریعت جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شیخ طریقت، امیر اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطار قادري رضوي دامت برکاتهم العالیه د 91 صفحو رساله 550 سنتیں اور آداب واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو یوه بهترینه ذریعه د دعوتِ اِسلامي مَدَني قافلو کنبې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے.

آؤ مدنی قافلے میں ہم کریں مل کر سفر | سنتیں سیکھیں گے اِس میں ان شاء اللہ سر بسر

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖین صلی الله علیه واٰله وسلم.

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

---

1...550 سنتیں اور آداب، صفحہ:16۔